# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

## AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــــاد　　بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم


www.afgazad.com　　afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
| --- | --- |



احمدشاه وردگ - کابل- دریمه کارته


۰۵ اگست ۲۰۱۱

## ولی هیڅوک د هما سلطانی خبرو ته غوږ نه نیسی!!!

لکه څرنگه چی هیوادوال خبردی، په دی وروستیو کی په ولسی جرگه کی دغزنی دخلکو استاذی هما سلطانی ادعا کوی چی د طالبانو دتحریک دمشر ملامحمد عمر مجاهد سره یی کتلی او هغه، دی ته پوره واک ورکړی چی دطالبانو په استاذیتوب دسولی خبری پر مخ بوزی.

رسمی اوغیر رسمی رسنیو تردیره دهما سلطانی خبری او ددی په کور کی دملا صاحب میلمه توب یوه پوچه ادعا وبلله اوپه دی لاره کی یی ډیری تخنیکی ستونزی یادی کړی چی دا کارناشونی دی. ولی هما سلطانی په زغرده وایی چی زه رښتیا وایم اوکه می خبری دروغ شوی نو حاضره یم چی محاکمه شم. نوموړی په دی لاره کی دوه لیکونه هم وراندی کړی چی یو یی دجمهور رییس اوبل یی دملاصاحب محمد عمر مجاهد دی. ولی تولو، که په ولسی جرگه کی دی یا په حکومت کی اویاهم دحکومت څخه بهر دا خبری هسی یوه ډرامه وبلله او دخارجی استخباراتو خصوصا(آی اس آی) یوه دسیسه یی وبلله!

که ددی خبری(دملا صاحب میلمتوب) ریښتینوالی او دروغ والی ته ونه گورو او هغوخبرو اوتکو ته غوږ شو کومی چی آغلی هما سلطانی دسولی په تړاو مطرح کړی نو خبره یوڅه داوریدلو ده! اوباید هر افغان ورته غوږ شی:

هما سلطانی نه؟ زه؟ زه نه اوته گرانه هیوادواله؟ ملامحمد عمر نه؟ کرزیه ته؟ فهیم خانه اوکریم خانه ته؟ څرنگه سوله په هیواد کی راتلای شی؟ تاسو اوستاسو نړیوال دوستان خو خپله اعتراف کوی چی دحل لاره ورکه ده؟

داتولی هغه خبری دی چی آغلی سلطانی په ډیره زړورتیا مطرح کړی ولی خلک اورسنی دی ته نه گوری چی داخه وایی اوتوله توجه یی دی خبری ته اړولی چی نه داکار ممکن نه دی؟ ملامحمد عمر دبڅو سره نه گوری او هغه په افغانستان کی نشته اونورنور......

که دآغلی سلطانی خبرو ته ځیر شو نو هغی دملامحمد عمر لخوا څو خبری مطرح کړی چی باید فکر پری وشی:

دافغانستان دستونزی (جگړی)څلور لوبغاړی دی:

۱-دطالبانو اسلامی تحریک

۲-دکرزی حکومت اواداره

۳- بهرنی ځواکونه(امریکا اوناټو)

۴-تنظیمی ډلی چی هم په حکومت کی دی اوهم په اپوزیسیون کی(اود ټولو بدمرغیو سرچینه هم دوی دی)

هما سلطانی وایی چی دغلورو لوبغاړو څخه یوه حاضره ده چی بی له قیده اوشرطه سوله ومنی او یو بی طرفه انتقالی حکومت جوړشی ترڅو په راتلونکی کی انتخابات وشی. دالس کلنی لاسته راوړنی به ټولی خوندی وی، دښځو حقوق او نورمدنی حقوق به خوندی وی. دهیواد استقلال، دخاوری تمامیت اوملی حاکمیت به ټول خوندی وی.

اوس لازمه ده چی دا دری نوری ډلی هم داکار وکړی اویوی بی پری ډلی ته واک ورکړی ترڅو سوله راشی او سالمه اداره جوړه شی.

که څوک وایی چی هما سلطانی ولی داخبری دسولی دعالی شورا سره نه کوی؟ دهغی محترمی ځواب دادی چی لومړی خو داشورا حکومت جوړه کړی چی هغه خپله دمشکل(ستونزی) یوه برخه ده. دوهم یی داسی کسان دشوراپه رهبری کی تعیین کړی چی دستونزی دریمه برخه ده(تنظیمی رهبران)دی چی دجګړو پیلونکی دی، نوځکه دا شورا په هیڅ ډول دسول دراوستو جوګه نشی کیدای.

که ملامحمد عمر دهماسلطانی په کور کی وی؟ یاپه کوټه کی اویا هم په کراچی کی اویا هم دآی اس آی او یا سی آی ای په میلمستون کی وی فرق نه کوی مهمه داده چی هغه څه غواړی؟ اوڅه طرحه یی وړاندی کړی؟

اوس ټول هیوادوال په دی سره متفق دی چی چاره هډوکی ته رسیدلی ده او دهیواد ځمکنی بشپړتیا او حتی موجودیت په خطر کی دی. کرزی اودهغی داخلی او خارجی موتلیفینو خو ونه شوای کولای چی دیرمختګ اوسوکالی په لور حتی یو ګام هم اوچت کړی او دادی دهیواد دتجزیی ناری سوری وهی. په ملیونونو ډالر یی ضایع کړل خپل اوپردی بچی یی هم دمرګ خولی ته ورکړل او هیواد یی اوسنی حالت ته راووست چی هیڅ افغان ته دزغم وړ نه دی.

ما دآغلی هما سلطانی دوه تلویزونی مناظری ولیدلی چی ټولو ګډونوالو توجه دی خواته اړولی وه چی نه ته ښځه یی اوملا دښځی سره نه ګوری؟ اویا ته شعییه یی اوملاصاحب شعیه ګان کافر بولی اوداسی نوری پوچی خبری؟اوهیچا دی خبری ته غوږ نه نیوه چی دا څه وایی؟

دآغلی سلطانی په وینا چی اوس ملا محمد عمر اودهغی دتحریک مجاهدین خپلو تیروتنو ته متوجی شوی منافقین یی پیژندلی او دګاونډیانو او بهرنیانو په نیتونو پو ه شوی اونه غواړی چی دخلکو په وینا دچا لپاره لنګه غواشی؟

ولی زه په دی خبره حیران یم چی ملا اوطالب دا ۱۴۰۰ کاله په دی خاوره کی موجود و ، نه یی انتحار کولو، نه دښځو دتعلیم مخالف و اونه هم دبهرنیانو سره دومره کرکه اونفرت موجود و. ولی نورکسان ول(منافقین) چی داسلام دسپیځلی دین تر شعار لاندی یی ټول بشریت وشرماوه او دجنایاتو او بربریتونو ریکارډونه یی ټینګ کړل اواوس دامریکایانو ترڅنګ په کابینه او شورا کی ناست دی. نه سوله غواړی؟ نه دجګړی غیرت لری(باید خارجیان ددوی دګټو لپاره جګړه وکړی) او دټولو اسلامی اوافغانی موازینو اواخلاقو خلاف یی خپل دسنګرملګری په دښمنانو خرڅ کړل اوډالر اوچوکی یی پری جوړی کړی. داهغه کسان دی چی دټولی نړی څخه یی مجاهدین رادعوت کړل او هغوی ته یی دتابیعت تذکری ورکړی اوبیا یی ملایانو ته په غاړه ورواچول اوهغوی یی دپاڼ اوپیرانګ ترمنځ ودرول. اوس چی خبره دربیښتیا ډګر ته رارسیدلی نو دوی وایی چی ملا خو دښځی سره نه ګوری؟ نه ملا دښځی په غوږ کی آذان کوی، هغی ته قرآن او لمونځ ورزده کوی بیا دهغی نکاح تړی او بالاخره

یی دجنازی لمونځ هم ملا کوی. او انشاالله ملا نور ددی آزمون څخه په بریالیتوب راووت اودمنافقینو دمخ څخه به پرده پورته کیږی، سوله به راځی اوبی طرفه حکومت به جوړیږی او ملا به بیا همداسی زمونږ ژوند په الله اکبر پیل کوی او په اناالله وانا الیه راجعون به یی پای ته رسوی.
په درناوی